# قرآن او عصري علوم





لیکوال: ډاکتر ذاکر نایک

ژباړه: انجنیر حفیظ الله سادات

Ketabton.com

کال: ۱٤۰۲ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ

ټولو هغوی ته د ډالۍ وي چې د قرآن په رڼا کې یې د عصري علومو
پر مټ ځانونه د حق له کاروان سره یو ځای کړي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سریزه............................................................................................ 1
د قرآن ننګونه (چلنج)................................................................... 2
ستورپوهنه..................................................................................... 3
فزیک............................................................................................. 8
جغرافیه......................................................................................... 9
جیولوژي...................................................................................... 11
سمندرپوهنه.................................................................................. 12
بیولوژي........................................................................................ 15
بوټاني........................................................................................... 16
حیوان پېژندنه............................................................................... 17
دارو (دوا)..................................................................................... 20
فیزیولوژي..................................................................................... 21
جنین پېژندنه................................................................................. 22
عمومي ساینس.............................................................................. 30
پایله.............................................................................................. 31

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

د قرآن او عصري علومو تر سرلیک لاندې دغه کوچنۍ ټولګه د هندي عالم ډاکټر عبدالکریم ذاکر نایک له لوري لیکل شوې چې پکې تر ډېره د قرآن په رڼا کې د عصري علومو په مرسته د کشف شویو اختراعاتو یادونه شوې ده. دغه ټولګه د هغو خلکو لپاره چې قرآن او ساینس له یو بله جلا ګڼي یو غوره مثال دی تر څو پوی شي چې قرآن تنها د تاقچو او الماریو کتاب نه بکلي دا هغه کتاب دی چې د ۱۴۰۰ کاله مخینې سره سره د نني عصري علومو سره خورا ښه اړخ لګوي. دوی باید پوی شي چې قرآن کریم داسې یوه معجزه ده چې په حقانیت یې د مسلمانانو تر څنګ ډېری غیر مسلمانان هم ګواهي ورکوي او دا مني چې په دغه کتاب کې راغلي حقایق د نني عصري علم له کشفیاتو سره خورا ژوره اړیکه لري. الله (جله جلاله) په دغه کتاب کې موږ. ته له شپږو زرو ډېرې نښې نښانې بیان کړې دي. د دغه نښو له جملې یې ځینې داسې دي چې یوازې د عصري علم او تکنالوژۍ په مرسته پرې پوهېدل ممکن دي چې دا خپله د عصري علم د اهمیت ښوودنه کوي. په تاسف سره باید وویل شي چې په ځینو مسلمانو ټولنو کې خلک عصري علومو ته به بیګانه نظر ګوري او دا ورته د نورو په ځانګړې توګه د غیر مسلمانو ټولنو څخه وارد شوي علوم ښکاري، حال دا چې د دغه علومو ارزښت ۱۴۰۰ کاله پخوا بیان شوی او مسلمانانو ته یې د زده کړې او پرې د عمل کولو امر شوی دی.

د نامتو فزیک پوه او د نوبل جایزې ګټوونکي البرټ اینشتین په وینا، "ساینس پرته له دین څخه ګوګنک، او دین پرته له ساینس څخه ړوند دی." هو! هر دین له ساینس پرته یقنیاً ړوند او پلویان یې ړانده دي ځکه دوی حتی د خپل دین په اړه د ساینسي حقایقو څخه دومره لرې دي چې حتی د یوې ډېرې کوچنۍ مسألې اړوند وضاحت ورکولو څخه عاجز دي. په دې هیله چې قرآن په صحیح مانا زده کړو او د خپل ژوند د لارې مشال یې وګرځوو.

د دغې کوچنۍ ټولګې په ژباړه کې مې تر وسه هڅه کړې په خورا روانه او سلیسه پښتو یې وژباړم تر څو د پوهې مینوال ترې په آسانۍ ګټه پورته کړي او د مطالعې تنده یې پرې ماته شي.

کېدای شي په دغه کړنه کې راڅخه ځینې خطاوې او غلطیانې شوې وي چې زه یې د ټولو لوستونکو څخه د ښښنې هیله کوم. او پدې برخه کې د ټولو درنو لوستونکو ارزښتمنو مشورو ته سترګې په لاره یم.

درنښت
حفیظ الله سادات
حمل-۱۴۰۲، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

له هغه راهیسې چې په دې سیاره کې د بشر د ژوند لمر راختلی، انسان تل هڅه کړې چې د پیدایښت په برنامه کې د خپل ځای، چاپېریال او په خپله د ژوند د هدف په اړه پوی شي. د حقیقت په دې لټه کې، چې زیاتې پېړۍ او بېلابېل تمدني جوړښتونه په بر کې نیسي، سازماندهي شوي مذهب د انسان ژوند ته بڼه ورکړې او تر ډېره یې د تاریخ مسیر ټاکلی دی. په داسې حال کې چې ځینې مذهبونه د کتابونو پر بنسټ ولاړ دي، او د پیروانو له لوري یې د خدایي الهام دعوه کیږي، نور بیا یوازې پر بشري تجربې تکیه کوي.

قرآن، چې د اسلامي عقیدې اصلي سرچینه بلل کیږي، یو داسې کتاب دی چې د مسلمانانو په باور یو بشپړ الهي اصل دی. مسلمانان همدارنګه عقیده لري چې دا کتاب د ټولو انسانانو لپاره لارښود دی. څه رنګه چې باور کیږي د قرآن پیغام د هر عصر لپاره دی، نو دا باید له هر وخت او عصر سره تړاو ولري. آیا قرآن په دې ازموینه کې بریالی دی؟ په دې کتاب کې زه کوشش کوم چې د ثابتو علمي موندنو په رڼا کې، د قرآن کریم د الهي منشأ په اړه د مسلمانانو د عقیدې یو باهدفه او بې طرفه تحلیل وړاندې کړم.

د نړۍ د تمدن په تاریخ کې یو وخت داسې و چې یوه معجزه یا هر څه چې د معجزې ګومان پرې کېده، د انساني عقل او منطق په پرتله یې لومړیتوب درلود. مګر د معجزې اصطلاح څه رنګه تعریفوو؟ هر څه چې د ژوند له عادي لارې څخه بیرون پېښیږي او بشر د هغه لپاره هېڅ توضیح ونه لري یوه معجزه بلل کیږي. په هرصورت، مخکې له دې چې موږ یو څه د معجزې په توګه ومنو باید له ډېر احتیاط څخه کار واخلو. په ۱۹۹۳ میلادي کال کې د هندوستان د 'ټایمز نیوز-ممبایي' په یوه مقاله کې راغلي وو چې د 'بابا پیلوټ' په نوم یوه 'روحاني کس' ادعا کړې چې درې شپې او ورځې په پرلپسې توګه په یو ټانک کې د اوبو لاندې ډوب شوی دی. خو کله چې خبریالانو وغوښتل د اوبو د ټانک هغه ځای وګوري چې ده په کې د دغه خارق العاده کار د ترسره کولو ادعا کوله، ده یې له کتلو څخه انکار وکړ. هغه د دغه کار په ځواب کې دا استدلال وکړ چې څه رنګه یو څوک کولی شي د هغې مور رحم معاینه کړي چې ماشوم زیږوي. بابا د کوم شي پټولو سره د خپل شهرت جلبلولو لپاره یو چال جوړ کړی و. په یقین سره، هېڅ عصري او منطقي کس که لږ معقول فکر هم وکړي دا ډول معجزه نه مني. که چېرې داسې غلطې معجزې د الوهیت د آزمویلو لار وای، نو موږ مجبور یو ښاغلی پي. سي. سورکر، د نړۍ مشهور جادوګر، چې په خپلو حیرانوونکو جادویي چلونو او فریبونو کې نوم لري، د خدای د غوره کړل شي کس په توګه ومنو.

یو کتاب چې د الهی منشأ ادعا لري، په عمل کې د دې دعوه کوي چې یوه معجزه ده. دا ډول ادعا باید په هرعصر کې د هغه عصر د معیارونو مطابق په اسانۍ سره د تائید وړ وي. مسلمانان په دې عقیده دي، چې قرآن د خدای وروستۍ وحې ده، د معجزو دا معجزه د ټول بشریت لپاره د رحمت په توګه نازله شوې ده. نو راځئ د دې عقیدې حقیقت او اعتبار وڅیړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن ننګونه (چلنج)

ادبیات او شاعري په ټولو کلتورونو کې د انسان د اظهار او خلاقیت وسیلې دي. نړۍ یو وخت د داسې عصر شاهده وه چې په کې شعر او ادب د ویاړ مقام درلود، همداسې لکه نن چې په کې ساینس او تکنالوژي خپل راج چلوي. مسلمانان او غیر مسلمانان په دې متفق دي چې قرآن د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره عربي ادب دی او دا دعربي ادبیاتو یوه غوره بېلګه ده. قرآن په لاندې آیتونو کې انسانان ننګوي:

وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ وَلَن تَفْعَلُوا۟ فَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَٰفِرِينَ (البقره: ۲۳-۲۴)

ژباړه: او که په هغه څه کې شکمن یاست چې موږ پرخپل بنده نازل کړي، نو د هغه په شان یو سورت خو راوړئ، او د الله نه پرته خپل مرستیالان هم راوبلئ، که رښتوني یاست. نو که ومو نه کړ او هېڅکله به یې ونه کړئ نو له هغه اوره ځان وساتئ چې سون یې خلك او کاڼي دي، دکافرانو لپاره (بالکل) چمتو دی.

د قرآن ننګونه یا چلنج دا دی چې د هغو سورتونو په شان چې قرآن ترې جوړ شوی یو سورت جوړ کړي. دې ته ورته ننګونه څو ځله په قرآن کې تکرار شوې ده. د داسې سورت د جوړولو ننګونه چې په ښکلا، فصاحت، دقت او مانا کې لږ تر لږه یو قرآني سورت ته ورته وي تر نن ورځې بې ځوابه پاتې ده. یو عصري منطقي سړی به په هېڅ صورت یوه داسې مذهبي صحیفه (ټولګه) چې په یوه غوره شاعرانه ژبه، په کې ویل شوي وي چې نړۍ همواره ده، ونه مني. دا ځکه چې موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې په کې انساني عقل، منطق او ساینس ته لومړیتوب ورکول کیږي.
ډېری به د قرآن خورا ښکلې ژبه د هغه د الهي اصل د ثبوت په توګه ونه مني. هر هغه صحیفه چې د الهي وحی دعوه کوي باید د خپل دلیل او منطق په زور د منلو وړ وي. د نامتو فزیک پوه او د نوبل جایزې ګټوونکي البرټ اینشټین په وینا، "ساینس پرته له دین څخه ګونګ، او دین پرته له ساینس څخه ړوند دی." په همدې خاطر راځئ قرآن مطالعه کړو او وڅېړو چې آیا قرآن او عصري علوم څومره سره همغږي دي؟ قرآن د ساینس کتاب نه بلکه د 'نښو' (آیاتونو) یو کتاب دی. په قرآن کې له شپږو زرو زیاتې نښې (آیاتونه) وجود لري چې له زرو زیاتې یې په ساینس پورې اړه لري. په دې کتاب کې ما یوازې ثابت شوي علمي حقایق په پام کې نیولي دي، نه هغه چې یوازې د فرضیو او نظریاتو (تیوریو) په بڼه لا تراوسه د انکېرنې پر بنسټ دي او په ثبوت لا ندي رسیدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱)
# ستورپوهنه

## د نړۍ پيدايښت: بېګ بنګ (لويه چاودنه)

د کايناتو پيدايښت د ستورپوهانو له لوري په يوه خورا مشهوره پېښه کې چې بېګ بنګ (لويه چاودنه) نوميږي تشريح شوی دی. او دا پديده (پېښه) د عيني او تجربوي معلوماتو په مرسته چې د ستورپېژندونکو او نجوم پوهانو له لوري د څو لسيزو لپاره راټول شوي دي ملاتړ کيږي. د بېګ بنګ پديدې ته په کتو، په لومړيو کې ټولو کايناتو د يوې غټې کتلې په بڼه چې (لومړنی نيبولا) بلل کيږي وجود درلود. وروسته بيا د بېګ بنګ (ثانوي بېلوالي) واقعه پېښه شوه چې په نتيجه کې يې کهکشانونه منځ ته راغلل. نوموړي کهکشانونه بيا د ستورو، سيارو، لمر، سپوږمۍ او داسې نورو د جوړولو په موخه ويشل شوي دي. د دې سترو کايناتو اصليت بې سارى و او په چانسي ډول يې د رامنځته کېدو احتمال کاملاً صفر دی. په قرآن کې د کايناتود اصليت په اړه لاندې آيات راغلی دی:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ( الأنبيا:۳۰)

ژباړه: آيا هغو کسانو چې کافر شوي دا نه دي ليدلي چې آسمانونه او ځمکه سره نښتي وو بيا موږ سره بېل کړل؟

د قرآني آيات او بېګ بنګ تر منځ دا د پام وړ او حيرانوونکی ورته والی يو انکار نه منونکی حقيقت دی! څرنګه يو کتاب چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې د عربو په دښتو کې راڅرګند شو کولی شي دا ژور حقيقت بيان کړي؟

## د کهکشانونو د جوړښت څخه وړاندې يوې لومړنۍ

## ګازي کتلې شتون درلود

ساينسپوهان وايي مخکې له دې چې په کايناتو کې کهکشانونه جوړ شي، اسماني مادې د ګازي مادې په بڼه شتون درلود. لنډه دا چې، د کهکشهانونو له جوړښت څخه مخکې يوه غټه ګازي ماده يا وريځ موجوده وه. د لومړنۍ اسماني مادې د تشريح لپاره، د 'لوګي' (دود) کلمه د ګاز په پرتله مناسبه ده. د کايناتو دغه حالت په لاندې قراني آيت کې په 'دُخان' کلمې سره چې د لوګي معني ورکوي تشريح شوی دی:

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ (فصلت:۱۱)

ژباړه: بيا د آسمان په لور متوجه شو او هغه (لکه) لوګی و، نو هغه او ځمکې ته يې وويل: دواړه راشئ په خوښه يا ناخوښه! ويلې دواړه په خوښۍ (تابعدار) راغلي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم، دا حقیقت چې د حضرت محمد (صل الله علیه وسلم) په وخت کې عربو ته نه و معلوم د 'بېګ بنګ' لپاره یو استنباط دی. ښه نو، نور څه د دې علم سرچینه کیدای شي؟

## د ځمکې کروي بڼه

په لومړیو وختونو کې، خلکو باور درلود چې ځمکه همواره ده. په پېړیو پېړیو، انسانان له دې ویرېدل چې که دوی ډېر لرې سفر وکړي د ځمکې له څنډو به ولویږي. ښاغلی فرانسیس ډریک لومړنی شخص و چې په ۱۵۹۷ کال کې یې د ځمکې په شاوخوا د تګ پر مهال څرګنده کړه چې ځمکه کروي ده. د شپې او ورځې د بدلون په اړه لاندې قرآني آیت ته نظروکړئ:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ (لقمان:۲۹)
ژباړه: آیا ته نه وینې چې الله څنګه شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي؟

دلته د ننویستلو معنی دا ده چې شپه کرار کرار او په تدریج سره په ورځ بدلیږی او برعکس. دا پیښه یوازې هغه وخت ترسره کیدای شي چې ځمکه کروي وي. که فرض کړو ځمکه هواره او مسطحه وای، نو له شپې څخه ورځې او له ورځې څخه شپې ته بدلون به هم ډېر ناڅاپه وای!

لاندې آیت هم د ځمکې کروي والي ته اشاره کوي:

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ (الزمر: ۵)
ژباړه: آسمانونه او ځمکه یې په حقه پیدا کړي، هغه شپه پر ورځې ورتاووي او ورځ پر شپې ورتاووي.

د 'کویره' عربي کلمه چې دلته کارول شوې ده یو پر بل د اوښتلو (ورتاوولو) په معنی ده، داسې چې یوه لونګۍ له سر څخه تاویږی. پیچل (تاوول) یا یو پر بل اوښتل یوازې هغه وخت ترسره کېدای شي چې ځمکه کروي شکل ولري. ځمکه دقیقاً د یو توپ په څېر ګرده نه ده، بلکې یو جیو-کروي بڼه لري چې په قطبونو کې هواره او پراخه شوې ده. په لاندې آیت کې د ځمکې بڼه تشریح شوې ده:

وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ[1] (النازعات:۳۰)
ژباړه: او موږ ځمکه هګۍ ته ورته بڼه کې جوړه کړې ده.

دلته 'دحٰهآ' چې یوه عربي کلمه ده د هګۍ لپاره کارول شوې ده چې اصلي معنی یې د شتُرمرغ هګۍ ده. او د ځمکې جیو کروي بڼه د شترمرغ هګۍ ته ورته دی. په دې توګه

[1] د دحٰها کلمه ابو یوسف علی د پراخوالي په بڼه هم ژباړلې ده، ولې دغه کلمه د شترمرغ د هګۍ مانا هم ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن د ځمکې بڼه سمه بیانوي، په داسې حال کې چې د قرآن د نزول پر وخت د ځمکې د بڼې په اړه دا مشهوره وه چې ځمکه هواره ده.

## د سپوږمۍ رڼا انعکاس شوې(بېرته ګرځېدوونکې) رڼا ده

په مخکنیو تمدنونو کې دا باور موجود و چې سپوږمۍ له خپله ځانه رڼا خپروي. ساینس اوس موږ ته وایي چې د سپوږمۍ رڼا منعکسه شوې رڼا ده. حال دا چې دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله مخکې په قرآن کې په لاندې آیت کې راغلی دی:

تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا (الفرقان:۶۱)
ژباړه: هغه ذات مبارك دی چې په اسمان کې یې برجونه پیدا کړل او په هغه کې ډېوه او روښانه سپوږمۍ.

په قرآن کې د لمر لپاره عربي کلمه 'شمس' ده. دلته د 'سراج' په بڼه راغلې چې معنی یې ډېوه ده، یا 'وهاج' چې معنی یې بل شوی څراغ دی او یا هم 'ضِیآ' چې د روښنوالي په معنی دی. ټول دری واړه تشریحات له لمر سره مناسب دي، ځکه د داخلي احتراق عملیې سره شدیده تودوخه او رڼا تولیدوي. د سپوږمۍ لپاره عربي کلمه ' قمر' ده او په قرآن کې د 'مُنیر' په بڼه تشریح شوې ده، یعنې هغه جسم چې رڼا ورکوي. بیا هم، قرآني تشریح د سپوږمۍ د اصلي جوړښت او طبیعت سره په بشپړ ډول سمون لري، کوم چې په خپله رڼا نه ورکوي او یو خنثی جسم دی چې د لمر رڼا منعکسوي. په قرآن کې په ځلونو له سپوږمۍ څخه د سراج، وهاج او یا ضِیآ او له لمر څخه د نور یا منیر په توګه یادونه شوې ده چې دا په دې دلالت کوي چې قرآن د لمر او سپوږمۍ د رڼاوو د اصلیت ترمنځ توپیر پېژني. د لمر او سپوږمۍ د رڼا د طبعیت او اصلیت په هکله لاندې آیاتونو ته نظر وکړئ:

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا ﴿٥﴾ (یونس: ۵)
ژباړه: دی هماغه ذات دی چې لمر یې روڼ او سپوږمۍ یې روښانه ګرځولې.

أَلَمْ تَرَوْا۟ كَيْفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا﴿١٥﴾ وَجَعَلَ ٱلْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ ٱلشَّمْسَ سِرَاجًا (نوح:۱۵-۱۶)
ژباړه: آیا نه وینئ چې الله په څه ډول لاندې باندې اووه آسمانونه پیدا کړي دي؟ او په هغو کې یې سپوږمۍ روښانه او لمر ډېوه ګرځولی.

## لمر څرخیږي (دوران کوي)

اروپایي فیلسوفان او ساینسپوهان د اوږدې مودې لپاره په دې عقیده وو چې ځمکه د کایناتو په مرکز کې ثابته ولاړه ده او د لمر په شمول نور ټول اجسام یې پر شاوخوا څرخیږي. په لویدیځ کې، د کایناتو دا جیوسنټریک مفهوم له میلاد څخه مخکې په دوهمه پیړۍ کې د Ptolemy له وخت څخه مشهور و. په ۱۵۱۲ کې نیکولاس کوپرنیک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیارې د حرکت په اړه خپله هیلیوسنټریک تیوري وړاندې کړه، چې په کې لمر د لمریز نظام په مرکز کې یو بې حرکته جسم ښودل شوی او سیارې پرې راڅرخیږي.
په ۱۶۰۹ میلادي کال کې، آلماني ساینسپوه یوحناس کیپلر د 'ستورنومیا نوا' په نوم یو کتاب خپور کړ. هغه په دغه کتاب کې دا نتیجه ترلاسه کړه چې نه یوازې سیارې په بیضوی مدارونو کې د لمر په شاوخوا حرکت کوي، بلکې دوی په خپله هم په نامنظمو سرعتونو سره په خپلو محورونو څرخیږي. له دغو معلوماتو سره د اروپایي ساینسپوهانو لپاره دا ممکنه شوه تر څو د شپې او ورځې د تنظیم او ترتیب په شمول د لمریز نظام ډېری میکانیزمونه په درسته بڼه تشریح کړي.
له دغو اختراعاتو وروسته، داسې فکر کېده چې لمر بې حرکته دی او د ځمکې په څېر په خپل محور نه څرخي. زما په یاد دي چې ما په ښوونځي کې د جغرافیې په کتابونو کې دا ډول بې اساسه دلایل لوستي وو. لاندې قرآني ایت ته نظر وکړئ:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (الأنبیا: ۳۳)
ژباړه: او دی هماغه ذات دی چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړي دي، دا ټول په یو مدار (ګرځندی) کې لامبو وهي (ګرځي).

په پورتني آیت کې کارول شوې عربی کلمه 'یسبحون' ده. د یسبحون کلمه له 'سباحة' څخه اخیستل شوې ده. چې له ځان سره د حرکت نظریه چې هر خوځېدونکی جسم یې لري انتقالوي. که تاسو دا کلمه په ځمکه کې د یو سړي لپاره وکاروئ، نو دا به په دې معنی نه وي چې هغه رغړي بلکې د دې معنی به دا وي چې هغه قدم وهي یا منډه وهي.
او که تاسو دا کلمه په اوبو کې د یو لامبو وهونکي لپاره وکاروئ نو دا به په دې معنی نه وي چې هغه د اوبو پر سر حرکت کوي بلکې دا به په دې معنی وي چې هغه لامبو وهي.
په همدې ډول، که تاسو چېرته د 'یسبح' کلمه د لمر په شان د یوه سماوي جسم لپاره وکاروئ نو دا به تنها دا معنی و نه لري چې لمر یوازې په هوا کې حرکت کوي بلکه دا به په دې معنی وي چې دا په فضا کې له حرکت کولو سره څرخیږي هم. د مکتب زیاتره کتابونو کې دا حقیقت داسې تعبیر شوی چې لمر په خپل محور څرخیږي. د خپل محور شاوخوا د لمر څرخېدل د یوې داسې آلې په مرسته ثابتېدای شي چې د میز پر سر د لمر تصویر منعکس کړي ترڅو انسان پرته له دې چې ړوند شي د لمر تصویر وآزمويي. دا لیدل کیږي چې لمر په خپله سطحه داسې کوچني خالونه (لکې) لري چې په هرو ۲۵ ورځو کې یو ځل یو دایروي حرکت بشپړوي، لمر تقریباً ۲۵ ورځو کې د خپل محور پر شاوخوا څرخیږي.
په حقیقت کې، لمر په یوه ثانیه کې نږدې ۱۵۰ مایله په فضا کې سفر کوي، او زموږ د شیري لارې کهکشان د مرکز شاوخوا د یو دوران د بشپړولو لپاره کم او زیات ۲۰۰ میلیونه کاله وخت اخلي.

لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ وَلَا ٱلَّيْلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (یس:۴۰)
ژباړه: نه لمر ته دا ښایي چې سپوږمۍ راګیر کړي او نه شپه په ورځې راړومبۍ کېدونکې ده، دا ټول په (خپل خپل) مدار کې (د ځانګړي قانون له مخې) غوټې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه آيت د عصري ستورپوهنې په واسطه کشف شوی يو مهم حقيقت بيانوي، د مثال په توګه؛ د لمر او سپوږمۍ د انفرادي مدارونو شتون او په خپل حرکت سره په فضا کې د دوی سفر کول. د هغه 'ثابت ځای' موقعيت چې لمر يې پر لور حرکت کوي، او له ځان سره لمريز نظام لېږدوي په دقيق ډول د عصري ستورپوهنې له لوري په نښه شوی دی چې د 'لمريز اپيکس' نوم ورته ورکړل شوی دی. لمريز نظام په حقيقت کې په فضا کې د يوې داسې نقطې پر لور روان دی چې د هرکولس (الفا طبقې) په موجوداتو کې موقعيت لري او دقيق ځای يې په ښه بڼه ثابت شوی دی.
سپوږمۍ د خپل محور په شاوخوا په ۲۹ نيمو ورځو کې يو مدار بشپړوي او دا همدومره وخت دی چې سپوږمۍ په کې د ځمکې په شاوخوا يو وار راګرځي.

## لمر به له يوې ټاکلې مودې وروسته کار پرېږدي

د لمر رڼا د هغې کمياوي پروسې له امله ده چې له تېرو پنځو ميلياردو کلونو راهيسې په دوامداره توګه د لمر په سطحه ترسره کيږي. دا پروسه به په راتلونکې کې يو وخت پای ته ورسيږی او لمر به په بشپړه توګه له کاره ولويږي چې د ځمکې پر مخ به د ټولو ژونديو موجوداتو د ژوند د له منځه تلو سبب شي. قرآن د لمر د موجوديت د بې ثباتۍ په اړه وايي:

وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ (يس: ۳۸)[۲]
ژباړه: او لمر (بله نښانه ده) چې په خپله ټاکلې (د يوې معينې مودې لپاره) لار چليږي دا د ډېر پوه برلاسي (خدای) ټاکلی نظام دی.

د 'مُستقر' عربي کلمه چې دلته کارول شوې ده د يو 'ټاکل شوي ځای يا وخت' په مانا ده. په دې توګه قرآن وايي چې لمر د يوه ټاکل شوي ځای يا وخت په لور روان دی، او دا کار به يوازې تر يوې معينې مودې چې مخکې ټاکل شوې ترسره کړي – مانا دا چې ختم به شي يا به کار پرېږدي.

## د ستورمنځي مادې شتون

له منظمو نجومي سيستمونو څخه بېرون فضا مخکې خلا فرض شوې وه. وروسته بيا ستورپوهانو په ستورمنځي فضا کې د پلونو (Bridges) په بڼه د مادې شتون کشف کړ. د مادې دا پلونه چې د پلازما په نامه سره ياديږي، او په بشپړ ډول له آيونيزشوي ګاز څخه جوړ شويدي د آزادو الکترونونو او مثبتو آيونونو مساوي شمېر لري. پلازما ته کله کله د مادې د دريو پيژندل شويو حالاتو (جامد، مايع او ګاز ) ترڅنګ څلورم حالت ته هم ويل کيږی. قرآن په لاندې آيت کې د دې مادې د شتون يادونه کړې ده:

ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا (الفرقان:۵۹)

[۲] په قرآن کريم کې ورته پيغام د سورت الرعد-ايت۲، فاطر-ايت۱۳، الزمر-ايت۵، او الزمر-ايت۲۱ کې ذکر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: هغه ذات چې آسمانونه، ځمکه او دهغو ترمنځ هرڅه یې پیدا کړل.

دا به د هر چا لپاره خندوونکي وي چې حتی دا ومني چې د یوې لویې ستورمنځي مادې شتون ۱۴۰۰ کاله وړاندې پیژندل شوی و.

## پراخېدونکي کاينات

په ۱۹۲۵ کال کې د اډوین هبل په نوم یو امریکایي ستورپېژندونکي، یو لړ تجربوي شواهد وړاندې کړل چې ښيي؛ ټول کهکشانونه له یو بل څخه راتوکیږي، او دا په دې دلالت کوي چې کاینات پراخیږي. د کایناتو پراختیا اوس یو ثبوت شوی علمي حقیقت دی. او دا هغه څه دي چې قرآن د کایناتو د طبیعت په اړه وایي:

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ (الذاريات: ۴۷)
ژباړه: او آسمان مو په خپل قدرت سره جوړ کړی او موږ خامخا پراخوونکي یو.

د 'مُوسِعون'عربي کلمه په سمه توګه ژباړل شوې ده یعنی 'پراخول'، او هغه د پراخېدونکو کایناتو جوړولو ته وایي. سټیفن هاوکینګ، په خپل کتاب 'د وخت لنډ تاریخ' کې وايي، "د کایناتو د پراختیا اختراع د شلمې پیړۍ یو له سترو فکري انقلابونو څخه وه."
قرآن د کایناتو د پراختیا یادونه مخکې له دې چې انسان حتی د یو تیلیسکوب جوړول زده کړي، کړې ده! ځینې شاید ووایي چې په قرآن کې د نجومي حقایقو شتون د حیرانتیا وړ نه دي ځکه چې عربان د ستورپوهنې په ډګر کې پرمخ تللي وو. دوی د ستورپوهنې په برخه کې د عربو د پرمختګ په اړه د ستاینې حق لري. مګر دوی په دې نه پوهیږي چې په ستورپوهنه کې د عربو له پرمختګ څخه په پیړیو مخکې قرآن نازل شوی دی. پردې سربېره، د ستورپوهنې په اړه ډېر هغه علمي واقعیتونه چې پورته ذکر شول لکه؛ له بیګ بنګ (لویه چاودنه) څخه د کایناتو شروع، په اړه حتی عرب د خپل علمي پرمختګ د اوج په دور کې پرې نه پوهېدل. له همدې امله په قران کې ذکر شوي علمي حقایق په نجوم علم کې د عربو د پوهې له وجې نه دي. په حقیقت کې، برعکس ریښتیا دي. عربو په نجوم کې ترقي وکړه ځکه چې ستورپوهنه په قرآن کې یو خاص ځای لري.

# (۲)
# فزیک

## د کوچنیو اتومي ذراتو موجودیت

په لرغونو وختونو کې د اتومیزم په نوم یوه پیژندل شوې تیوري په پراخه کچه منل شوې وه. دا نظریه په اصل کې د یونانیانو له خوا، په ځانګړي ډول د ډیموکریټس په نوم یو سړي چې شاوخوا ۲۳ پیړۍ مخکې یې ژوند کولو وړاندې شوې وه. ډیموکریټس او له هغه څخه وروسته خلکو داسې ګڼل چې د مادې تر ټولو کوچنۍ ذره اتوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربان هم په همدې عقیده وو. د 'ذره' عربي کلمه په عامه توګه د اتوم په معنی وه. په شلمه پېړۍ کې عصري ساینس دا کشف کړه چې حتی دا هم امکان لري چې یو اتوم تجزیه شي. څوارلس پېړۍ مخکې به دا مفهوم حتی یو عرب ته غیر معمولی ښکاره شوی وای. د هغه لپاره ذره هغه وروستی حد و چې له هغه نه بهر څوک نه شو تللی او نه یې چا د تجزیې په اړه فکر کولای شو. په داسې حال کې چې لاندې قرآنی آیت د دې حد له منلو څخه انکار کوي:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٖ مُّبِينٖ (سبأ: ٣)[٣]

ژباړه: او کافران وايي چې موږ ته به قیامت را نه شي! ورته ووایه: هوکې، په رب مې دې قسم وي چې د غیبو عالم دی خامخا به درته راشي، له هغه نه په آسمانو او ځمکه کې د یوې ذرې په اندازه څه نه پټیږي، او نه به له دې کوچنی او نه (ترې) لوی څه داسې شی وي چې هغه په یو څرګند کتاب کې نه وي.

دا آیت د ټولو پټو یا ښکاره شیانو په اړه د خدای د پوهې په اړه دی. دغه آیت دا نورهم واضح کوي چې خدای د اتوم (یا له هغه څخه کوچنی یا لوی) په شمول په هر څه خبر دی. په دې توګه دا آیت په څرګنده توګه له اتوم څخه د کوچني څيز د شتون امکان ښيي، هغه حقیقت چې په دې وروستیو کې د عصري ساینس له لوري کشف شوی دی.

# (٣)
# جغرافیه

## د اوبو دوران

په ۱۵۸۰ میلادي کال کې برنارډ پالیسي لمړنی کس و چې د نني عصر د اوبو د دوران مفهوم یې وړاندې کړ. هغې دا وښوده چې اوبه څرنګه له سمندرونو څخه تبخیریږي او بیا له یخېدلو وروسته په وریځو بدلیږي. وریځې یو بل ته په نږدې کېدلو سره متراکېمیږي او د باران په بڼه ښکته راځي. دغه اوبه بیا په یوه مسلسله دوره کې د جهیلونو او نهرونو په بڼه یو ځای کیږي او بېرته سمندرونو ته بهیږي.
له میلاد څخه مخکې اوومه پېړۍ کې، د میلتوس تالس په دې عقیده و چې د سمندرونو سطحي سپرې (نازک اوبلن قشر) د بادونو په واسطه پورته کیږي او بیا له یوځای څخه بل ځای ته انتقالیږي او وروسته ترې باران جوړیږي. په لومړیو وختونو کې خلکو د ځمکې لاندې اوبو سرچینه نه پیژندله. دوی فکر کولو چې د سمندرونو اوبه، د باد تر اغیز لاندې، د لویو وچو داخلي لور ته حرکت کوي. دوی په دې عقیده هم وو چې اوبه د یوې پټې لارې یا هغه لوی سوري څخه چې د افلاطون د وخت راهیسې د تاتاروس

[٣] ورته پیغام په سورت یونس-ایت ۶۱ کې ذکر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نوم یادیږي بیرته راستنې شوې دي. او دا لاره له سمندرونو سره تړل شوې ده. حتی د آتلسمې پېړۍ لوی مفکر ډېکارتس هم له دې نظر سره موافق و. تر نولسمې پېړۍ پورې د ارسطو نظریه موجوده وه. د دې نظریې له مخې اوبه په سړو غرنیو غارونو کې کنګل شوې چې تر ځمکې لاندې جهیلونه یې جوړ کړل او له همدې لارې چینې تغذیه کیږي. نن ورځ موږ پوهیږو چې د باران هغه اوبه چې د ځمکې په درزونو (چاکونو) کې ننوځي ورته دنده ترسره کوي. د اوبو دوران په لاندې قرآني آیاتونو کې تشریح شوی دی:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ (الزمر: ۲۱)

ژباړه: آیا تا نه دي لیدلي چې الله اوبه له اسمانه را اورولې، بیا یې د ځمکې په چینو کې ننویستې بیا په هغو سره رنګا رنګ کښتونه راباسي.

وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (الروم: ۲۴)

ژباړه: او له آسمانه اوبه را اوروي بیا په هغو سره ځمکه د هغې له مرګه وروسته بیا را ژوندۍ کوي، بې شکه په دې کې د عقل خاوندانو ته (ډېرې) نښانې دي.

وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ (المؤمنون: ۱۸)

ژباړه: او له آسمانه مو په یوه ټاکلې اندازه اوبه را واورولې او هغه مو په ځمکه کې ودرولې او په له منځه وړلو یې هم یقیناً موږ قادر یو.

هېڅ بله داسې لیکنه چې ۱۴۰۰ کاله تاریخ ولري د اوبو د دوران په هکله دومره دقیق تشریحات نه ورکوي.

## بادونه وریځې القاح کوي

وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ (الحجر:۲۲)

ژباړه: او موږ بلاربوونکي بادونه رالیږو، بیا له آسمانه اوبه راتویوو او تاسو پرې خړوبوو چې تاسو یې زېرمه کوونکي نه یاست.

د 'لواقح' عربي کلمه چې دلته استفاده شوې ده له 'لقاحه' څخه اخیستل شوې ده چې د لاقح کلمې جمعه ده او معنی یې القاح کول (بلاربول) دي. په دې مبحث کې، د القاح معنی دا ده چې وریځې د باد په ذریعه یو په بل کې تېل وهل کیږي او تراکم زیاتوي چې په نتیجه کې رعد او برق رامنځ ته کیږي او د باران سبب ګرځي. په قرآن کې همدې ته ورته یو وضاحت راغلی:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ ۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ (الروم: ۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: الله هماغه دی چې بادونه لیږي چې هغه بیا وریځې پورته کوي او بیا څنګه چې وغواړي په آسمان کې یې خپروي او ټوټې ټوټې یې کوي، بیا وینې چې څاڅکي یې له منځه راوځي. نو بیا یې چې له خپلو بندګانو چاته غواړي ورسوي، هغوی یو دم خوشالي بنا کړي.

قرآني توضحات په بشپړ ډول دقیق او له اوسني عصري هایدرولوژیکي دېټا سره په ښه ښه همغږي لري. د اوبو دوران په قرآن عظیم الشان کې په بېلابېلو آیاتونو کې تشریح شوی دی.

# (۴)
# جیولوژي

## غرونه د میخونو په څېر دي

په جیولوژي کې د فولډینګ (قاتولو) پدیده یو نوی اختراع شوی حقیقت دی. فولدینګ د غرونو د لړی د جوړښت مسؤولیت لري. د ځمکې پاسنی قشر چې موږ پرې ژوند کوو د یو کلک پوښ په څېر دی، په داسې حال کې چې داخلي طبقات یې ګرم او مایع دي، او په همدې خاطر د هر ډول ژوند لپاره غیر مناسب دي. دا هم معلومه ده چې د غرونو پایداري د قاتولو (فولډینګ) پدیدې پورې تړلی ده، ځکه همدا فولدینګ ده چې د غرونو لپاره یې بنسټونه جوړ کړي دي. ځمکه پېژندوونکي وایي چې د ځمکې شعاع تقریباً ۳۷۵۰ مایله ده، او هغه قشر چې موږ پرې ژوند کوو ډېر نازک دی چې تقریباً د ۱ څخه ۳۰ مایل پورې پنډوالی لري. څرنګه چې قشر نازک دی نو له همدې امله یې د ښوریدلو چانس زیات دی. غرونه د مږویو یا د خیمو د میخونو په شان کار کوي او د ځمکې قشر ته په پایښت ورکولو سره هغه ټینګ نیسي. قرآن دقیقاً په همدې اړه په لاندې آیات کې یو وضاحت لري:

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا (النبأ: ۶-۷)
ژباړه: آیا موږ ځمکه فرش نه ده ګرځولې، او غرونه مېخونه؟

د 'اوتاد' کلمه د مېخونو په معنی ده (هغه میخونو ته ورته چې د خېمې د تړلو لپاره کارول کیږي)؛ دوی د جیولوژیکي فولډونو(ګونځو) ژور تهدابونه دي. د "ځمکې" په نوم یو کتاب چې د نړۍ په زیاتره پوهنتونونو کې د جیولوژي مضمون د اساسي ماخذ په توګه کارول کیږي. د دې کتاب له مؤلفینو څخه یو یې فرانک پریس دی، نوموړی په ساینسي چارو کې د امریکا د پخواني ولس مشر جیمي کارټر سلاکار او ۱۲ کاله په امریکا کې د ساینسي علومو د اکادمۍ رئیس پاتې شوی دی. هغه په دې کتاب کې غر د یوې پانې په بڼه تشریح کوي، چې ریښه یې په ژوره توګه په ځمکه کې ځای پر ځای شوې ده[۴]. د ډاکټر پریس په اند، غرونه د ځمکې د پاسني قشر پایدارۍ کې مهم رول

[۴] ځمکه، پریس او سیور-صفحه ۴۳۵. او همدارنګه د ځمکې علم، تربوک او لوټجینز-صفحه ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. قرآن په ښکاره ډول د ځمکې له ښورېدو څخه په مخنيوی کې د غرونو د رول يادونه کړې ده:

وَجَعَلْنَا فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ (الأنبيا: ۳۱)

ژباړه: او په ځمکه مو درانه ولاړ غرونه پيدا کړل چې په دوی ونه خوځيږي او په هغې کې مو ارتې لارې جوړې کړې چې ښايي خپلې لارې ومومي.

## غرونه په ښه ډول ټينګ شوي دي

د ځمکې سطحه په ډېرو کلکو پليټونو چې تقريباً ۱۰۰ کيلومتره پنډوالی لري وېشل شوې ده. دغه پليټونه د يوې نيمه ويلې شوې سيمې له پاسه چې 'استينوسفير' بلل کيږي قرار لري. د غرونو جوړښتونه د پليټونو په سرحد کې رامنځته کيږی. د ځمکې قشر تر سمندرونو لاندې ۵ کيلومتره، د مسطحو کانتيننټال سطحو څخه لاندې شاوخوا ۳۵ کيلومتره او د غرونو تر پراخو سيمو لاندې تقريباً ۸۰ کيلومتره پنډوالی لري. دا هغه قوي بنسټونه دي چې غرونه پرې ولاړ دي. قرآن په لاندې آيت کې د غرونو د ټينګو بنسټونو په اړه خبرې کوي:

وَٱلْجِبَالَ أَرْسَٰهَا (النازعات: ۳۲)[5]

ژباړه: او غرونه يې په کې ښخ ودرول.

# (۵)

# سمندرپوهنه

## د خوږو او مالګينو اوبو تر منځ سرحد (پرده)

لاندې قرآني آيتونو ته پام وکړئ:

مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ (الرحمن: ۱۹-۲۰)

ژباړه: هغه دوه سيندونه (داسې) بهولي چې سره نښتي دي، خو ترمنځ يې يوه پرده ده چې يو پر بل نه ورګډيږي.

په عربي متن کې د 'برزخ' کلمه د يوه مانع يا يوې پردې په مانا ده. دا مانع په اصل کې يو فزيکي تقسيم نه دی. عربي کلمه 'مرَج' په لفظي ښه دا مانا لري چې دوی دواړه سره لګيږي او يو له بل سره ګډيږي. د قرآن لومړني مفسرين په دې نه توانېدل چې د اوبو د دوو ډولونو لپاره دوې مختلفې ماناوې بيان کړي. په دې مانا چې دوه ډوله اوبه سره نښلي او ګډيږي او په عين وخت کې د دوی ترمنځ يوه مانع هم شتون لري. عصري ساينس دا کشف کړې چې په هغو ځايونو کې چې دوه مختلف سمندرونه سره لګيږي، د

[5] ورته مثالونه په سورت الغاشيه- ايت ۱۹، القمان-ايت ۱۰ او النحل-ايت ۱۵ کې راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی تر منځ یوه پرده شتون لري. دا پرده دوه سمندرونه په داسې بڼه سره ویشي چې هر یو یې ځانته د تودوخې درجه، تروشوالی او تراکم ولري[۶]. سمندر پوهان اوس دا آیت په ښه بڼه تشریح کولای شي. د دوو سمندرونو ترمنځ د اوبو یوه پرده شتون لري چې له یو سمندر څخه بل ته اوبه ترې تیریږي. خو کله چې د یو سمندر اوبه بل ته داخلیږي شي، نو هغه خپل ځانګړي خواص له لاسه ورکوي او د نورو اوبو سره یو شان کیږی. په داسې توګه چې دغه پرده د دوو اوبو لپاره د یوشانوالي د انتقالي ساحې په توګه کار کوي. په قرآن کې ذکر شوې دغه علمي پدیده د ډاکټر ویلیم های له خوا چې یو مشهور سمندرپوه او د امریکا د کولرادو په پوهنتون کې د جیولوژیکي علومو استاد دی هم تائید شوې ده. قرآن د دې پېښې یادونه هم په لاندې آیت کې کوي:

وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ(النمل:۶۱)
ژباړه: د دوو سمندرونو ترمنځ یې پرده اچولې ده.

دا پېښه د مدیترانې او اتلانتیک سمندر په شمول چې په ګیبرالټر کې سره وېشل کیږي په څو ځایونو کې رامنځته کیږي. مګر کله چې قرآن د تازه او مالګینو اوبو تر منځ د وېشونکي په اړه خبرې کوي، نو د 'یو منع کوونکي ویشونکي' شتون له پردې سره ذکر کوي.

وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا (الفرقان:۵۳)
ژباړه: او دی هماغه ذات دی چې دوه سمندرونه یې خوشې کړي چې دا یو ډېر خوږ خوندور دی او دا بل مالګین تریخ او د دواړو ترمنځ یې یوه پرده واچوله، او یو بند چې منع کړی شوی دی.

عصري ساینس کشف کړې چې په استورځایونو (د رود خانې خوله) کې، چیرته چې تازه خوږې او مالګینې اوبه سره یو ځای کیږی، حالات له هغه څخه یو څه توپیر لري چیرته چې دوه سمندرونه سره یوځای کیږي. دا کشف شوې ده چې هغه څه چې په استور (مدخل) کې مالګینې اوبه له تازه اوبو څخه جلا کوي، یو پایکنوکلاین (pycnocline) زون دی چې د کثافت په نښه شوې نا انډولي لري او دوه برخې سره جلا کوي.[۷] دا بېلوونکی زون له خوږو او مالګینو اوبو څخه د مالګین والي تفاوت لري[۸]. دا پېښه د مصر په شمول چېرې چې د نیل رود په مدیترانه بحیره کې بهیږي په ډېرو ځایونو کې رامنځ ته کیږي.

---
[۶] د سمندر پیژندنې اساسات، ډاویس-صفحه۹۲ او ۹۳
[۷] سمندر پیژندنه، ګراس-صحفه ۲۴۲. همدارنګه؛ ابتدائي سمندر پیژندنه، تورمن-صفحه ۳۰۰ او ۳۰۱
[۸] سمندر پیژندنه، ګراس-صحفه ۲۴۲. همدارنګه؛ ابتدائي سمندر پیژندنه، تورمن-صفحه ۳۰۰ او ۳۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سمندرونو په ژورو کې تیاره

پروفيسور درګا راو چې د سمندري جيولوژي په برخه کې ماهر دی او په جده کې د ملک عبدالعزيز پوهنتون پروفيسور و. له هغه څخه وغوښتل شول چې د لاندې آيت په اړه تبصره وکړي:

أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ (النور:۴۰)

ژباړه: يا (دا مثال) لکه په يو ژور سمندر کې تروږمې چې د څپې له پاسه څپه ورباندې خپره وي او په هغې له پاسه وريځ، يو پر بل باندې تياري، کله چې (څوك) خپل لاس وباسي، نژدې وي چې هغه هم ونه ويني! او چا ته چې الله رڼايي پيدا نه کړي، نو بيا هغه ته رڼايي نه شته!

پروفيسور راو وويل چې ساينس پوهانو اوس يوازې د عصري وسايلو په مرسته دا تاييد کړې چې د سمندر په ژورو کې تياره شتون لري. انسانان نه شي کولی چې له مرستې پرته له 20 څخه تر 30 مترو پورې د اوبو لاندې ولاړ شي، او له 200 مترو څخه په ژورو سمندري سيمو کې ژوندی نه شي پاتې کېدلای. دا آيت ټولو بحرونو ته اشاره نه کوي ځکه چې هر بحر داسې تيارې طبقې نه لري چې يو پر بل باندې راټولې شوي وي. دا په ځانګړې توګه يو ژور بحر يا يو ژور سمندر ته اشاره کوي، لکه څنګه چې قرآن وايي، "په پراخه ژور سمندر کې تياره". په ژور سمندر کې دا طبقه يي تياره د دوه لاملونو پايله ده:

۱- د رڼا يوه وړانګه له اوو رنګونو څخه جوړه شوې ده؛ دا اووه رنګونه بنفش، نيلي، آبي، شين، زېړ، نارنجي او سور (VIBGYOR) دي. د رڼا وړانګې له اوبو سره له ټکر وروسته انعکاس کوي. له ۱۰ څخه تر ۱۵ مترو پورتنۍ اوبه سور رنګ جذبوي. نو که غوټه وهونکی تر اوبو ۲۵ متره لاندې وي او ټپي شي، دی به د خپلې وينې سور رنګ و نه شي ليدلی، ځکه سور رنګ دې ژوروالي ته نه رسېږي. په ورته ډول، نارنجي وړانګې له ۳۰ څخه تر ۵۰ مترو پورې؛ زېړې وړانګې له ۵۰ څخه تر ۱۰۰ مترو پورې؛ شنې وړانګې له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ مترو پورې، او آبي له ۲۰۰ مترو څخه په ډېرو او بنفش او نيلي وړانګې له ۲۰۰ مترو څخه پورته کې جذبيږي. د رنګونو د دغه طبقاتو د پرله پسې ورکيدو له امله سمندر په تدريجي ډول تياره کيږي؛ يعنې تياره د رڼا په طبقو کې واقع کيږي. او په سمندر کې د ۱۰۰۰ مترو ژوروالي لاندې بشپړه تياره کيږي.[۹]

۲- د لمر وړانګې د وريځو لخوا جذبيږي، چې په پايله کې د رڼا وړانګې تيتوي او په دې توګه د وريځو لاندې د يوې تيارې طبقې لامل کيږي. دا لومړۍ تياره طبقه ده. کله چې د رڼا وړانګې د سمندر سطحې ته ورسيږي، يوه اندازه يې د څپې د سطحې په

[۹] سمندرونه، ايلډر او پيرينټا-صحفه ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه منعکس کیږي چې سطحې ته یوه روښانه او ځلېدونکې بڼه ورکوي. نو دا هغه څپې دي چې رڼا منعکسوي او د تیارې لامل کیږي. غیر منعکس شوې رڼا د سمندر ژورو ته ننوځي. او له همدې امله سمندر دوه برخې لري. یوه یې سطحه ده چې د رڼا او تودوخې په واسطه مشخصه شوې ده او بل یې ژوروالی دی چې د تیارې په واسطه مشخص شوی دی. سطحه بیا د سمندر له ژورې برخې څخه د څپو په واسطه جلا شوې ده. داخلي څپې د بحرونو او سمندرونو ژورې اوبه پوښي ځکه چې ژورې اوبه د سطحې اوبو په پرتله لوړ کثافت لري. تیاره د داخلي څپو لاندې پیل کیږي. حتی د سمندر په ژورو کې کبان لیدل نه شی کولی او د دوی د رڼا یوازینی سرچینه د دوی له خپلو بدنونو څخه ده.

قرآن کریم ترې په سمه توګه داسې یادونه کوي: "په پراخه ژور سمندر کې هغه تیاره چې څپې پرې له پاسه څپې وهي." په بل عبارت، د دغه څپو له پاسه، د څپو ډېر نور ډولونه شتون لري؛ یعني هغه څپې چې د اقیانوس په سطحه کې موندل کیږي. قرآني آیت ادامه ورکوي: «د هغه له پاسه تورې ورېځې شتون لري، د تیارو ژوروالی چې یو پر بل له پاسه قرار لري.»

لکه څرنګه چې تشریح شوه، دغه ورېځې یو د بل له پاسه د موانعو په بڼه دي چې په مختلفو سطحو کې د بېلابېلو رنګونو په جذب سره د لاډېرې تیارې لامل ګرځي. پروفیسور درګا راو په پای کې وویل: "۱۴۰۰ کاله وړاندې یو عادي انسان نه شي کولی دا پدیده په دومره جزیاتو سره تشریح کړي. او په همدې خاطر، یاد معلومات باید له یوې فوق العاده طبیعي سرچینې څخه راغلي وي."

# (۶)
# بیولوژي

## هر ژوندی څیز له اوبو څخه جوړ شوی

لاندې قرآني آیت په پام کې ونیسئ:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ (الأنبیا:۳۰)

ژباړه: آیا هغو کسانو چې کافر شوي دا نه دي لیدلي چې آسمانونه او ځمکه سره نښتي وو بیا موږ سره بېل کړل، او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پیدا کړ، نو آیا دوی ایمان نه راوړي؟

یوازې وروسته له دې چې ساینس کې پرمختګونه وشول، آیا موږ اوس پوهېږو چې د حجرو هغه بنسټیزه ماده چې سایتوپلازم نومیږي ۸۰ فیصده له اوبو څخه جوړه شوې ده؟ عصري څېړنو هم دا څرګنده کړې چې ډېری ژوندی موجودات له ۵۰ څخه تر ۹۰ فیصده پورې اوبه لري او هر ژوندی موجود د خپل شتون لپاره اوبو ته اړتیا لري. آیا ۱۴ پیړۍ له مخه د کوم انسان لپاره دا ممکنه وه چې دا اټکل وکړي چې هر ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجود له اوبو څخه جوړ شوی؟ سربېره پر دې، آيا داسې يو اټكل به د يو انسان لپاره د عربستان په دښتو كې چې تل د اوبو له كمښت سره مخ وي، د تصور وړ وي؟ لاندې آيت له اوبو څخه د حيواناتو پيدا كولو ته اشاره كوي:

وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ (النور:۴۵)
ژباړه: او الله هر ساكښ له اوبو پيدا كړ.

په لاندې آيت كې له اوبو څخه د انسانانو د پيدايښت په اړه ويل شوي دي:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا (الفرقان: ۵۴)
ژباړه: او هماغه ذات دی چې انسان يې له اوبو پيدا كړ بيا يې د نسب او خسرګنۍ خاوند وګرځولو او ستا رب ښه قادر دی.

# (۷)
# بوټاني

## نباتات د جوړو په بڼه (نر او ښځه) پيدا شوي

انسانان پخوا په دې نه پوهېدل چې نباتات هم د نارينه او ښځينه جنسيت توپير لري. نباتپوهنه وايي چې هر نبات يو نارينه او ښځينه جنس لري. حتی هغه نباتات چې يو جنسه دي هم د نارينه او ښځينه دواړو جلا عناصر لري.

ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ (طه: ۵۳)
ژباړه: هغه چې تاسو ته يې ځمكه فرش ګرځولې، په هغې كې يې لارې درته غځولې او له آسمانه يې اوبه درته راتويې كړې دي. بيا په دې سره موږ هر ډول شنيلی راباسو، رنګ په رنګ.

## مېوې د جوړو په بڼه (نر او ښځه) پيدا شوې دي

په قرآن كريم كې راغلي؛

وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ (الرعد: ۳)
ژباړه: او د هر ډول مېوو جوړې يې پكې پيدا كړې.

مېوه د غوره نباتاتو د تكثير وروستی محصول دی له مېوو څخه مخكينۍ مرحله د ګل مرحله ده چې نارينه او ښځينه ارګانونه (stamens) او (ovules) لري. كله چې ګَرده ګل ته ليږدول كيږي، هغه مېوه نيسي، چې په پايله كې دغه مېوه پخيږي او خپل تخم آزادوي. له همدې امله ټولې مېوې د نارينه او ښځينه غړو شتون په ګوته كوي. هغه حقيقت چې په قرآن كريم كې هم ذكر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو ډولونو کې، ميوه کولی شي د غير القاح شوي ګلونو (پارتينوکارپيک ميوه) څخه منځ ته راشي. لکه؛ کېله، د اناناس ځينې ډولونه، انځر، نارنج، تاک او داسې نور. دوی هم ځانګړي جنسي ځانګړتياوې لري.

## هر شی د جوړې په بڼه پيدا شوي

وَمِن كُلِّ شَىْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ (الذاريات: ۴۹)
ژباړه: او د هر شي مو جوړې پيدا کړې دي.

دغه آيت د انسانانو، حيواناتو، نباتاتو او ميوو پرته نورو شيانو ته اشاره کوي. دا هم کيدای شي د برېښنا په څېر يوې پديدې ته چيرې چې اتومونه په منفي -او مثبت ډول- چارج شوي الکترونونه او پروټونونه لري اشاره وکړي.

سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ (يس: ۳۶)
ژباړه: هغه ذات لره پاکي ده چې دا ټولې جوړې يې پيدا کړې دي، له هغو نه چې ځمکه يې را زرغونوي، خپله دهغوی له ځانو (اولادونو) او (يا) له هغو شيانو چې دوی يې لا پېژني هم نه.

دلته قرآن وايي چې هر څه جوړه جوړه پيدا شوي دي، په شمول د هغه شيانو چې انسان يې اوس په اړه نه پوهيږي او ممکن وروسته يې ومومي.

# (۸)
# حيوان پېژندنه

## حيوانات او مرغان په ټولنو کې ژوند کوي

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ﴿۳۸﴾ (الانعام: ۳۸)
ژباړه: او په ځمکه کې هرخوځېدونکی او هرهغه الوتونکی چې په خپلو دواړو وزرو الوزي، بل څه نه ستاسو په شان مخلوقات دي.

څېړنو ښودلې ده چې حيوانات او مرغان د انسانانو په څېر په ټولنو کې ژوند کوي، مثلا دوی يو ځای ژوند کوي، يو ځای کار کوي او هر څه يو ځای تنظيموي.

## د مرغانو الوتل

د مرغانو د الوتلو په اړه قرآن وايي؛

أَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (النحل: ۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: آيا دوی الوتونکو ته نه دي کتلي چې څنګه د آسمان په هوا کې مسخر شوي دي؟ الله نه پرته يې بل هيڅوك نه ساتي. يقيناً په دې کې ايمان راوړونکو ته ډېرې نښانې دي.

دغه شان پيغام په قرآن کريم کې په دې آيت کې تکرار شوی دی؛

أَوَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ (الملک: ۱۹)
ژباړه: آيا دوی خپل دپاسه مرغان وزرونه غوړوونکي او راټولوونکي نه دي کتلي؟ له رحمانه پرته يې بل څوك (په هوا کې) نه نيسي، بې شکه هماغه په هر شي ښه ليدونکی دی.

د 'امسکه' عربي کلېمې لفظي معنی د يو چا لاس نيول، رانيول، تړل او يا يو څوک له شا څخه نيول دي چې دلته دا نظريه په ډاګه کوي چې الله (جله جلاله) مرغی په خپل قدرت کې لري. دغه آياتونه په الهي حکم باندې د مرغانو د ځلند خورا نږدې تعلق باندې ټينګار کوي. د عصري ساينس معلوماتو د مرغانو د مشخصو نوعو په واسطه د دوی دحرکت د پلانولو په اړه د دقت درجه ښودلې ده. دا يوازې د مرغانو په جينيټيک کوډ کې د کډوالۍ برنامې شتون دی چې کوچنی شي اوږد او پېچلی مزل تشريح کړي، کوم چې هر ځوان مرغه يې له مخکينۍ تجربې او لارښود پرته د ترسره کولو توان لري. دوی همدارنګه کولای شي په يو معين وخت کې د خپل الوت ځای ته بېرته ستانه شي. پروفيسور هيمبرګر په خپل کتاب 'طاقت او لطافت' کې د متون مرغه مثال ورکوي چې د ۱۵۰۰۰ مايله سفر سره په پاسفيک کې ژوند کوي. دغه مرغه ياد سفر د۶ مياشتو په موده کې ترسره کوي او له يوې هفتې اعظمي ځنډ وروسته بېرته د خپل الوت ځای ته راستنيږي. د داسې يو سفر لپاره بايد د مرغه په عصبي حجرو کې خورا پيچلې لارښوونې شتون ولري. دوی په يقين سره پروګرام شوي دي. نو آيا موږ د دې پرګرام کوونکي هويت رابرسېره نه کړو؟

## د شاتو مچۍ

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (النحل: ۶۸-۶۹)
ژباړه: او ستا رب د شاتو مچۍ ته په زړه کې ورواچوله چې په غرونو، ونو او هغو څېرو کې چې خلك يې لوړې جوړوي، کورونه جوړ کړه. بيا د هر ډول مېوو نه خوراك کوه او د خپل رب په هوارو کړيو لارو روانه اوسه د دوی له ګېډو د بېلا بېلو رنګونو يو شربت راوځي چې په هغه کې خلکو لپاره شفا ده، يقيناً په دې کې هغو خلکو ته (لويه) نښانه ده چې فکر کوي.

ون فريش په ۱۹۷۳ کال کې په هغې څېړنې سره چې د مچيو د ځلند او ارتباطاتو په اړه يې ترسره کړې وه د نوبل جايزه ترلاسه کړه. د شاتو مچۍ، د هر نوي باغ يا ګل له موندلو وروسته، بېرته خپل ځای ته ځي او خپلو ملګرو ته د ياد ځای د رسېدو دقيقه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نقشه ښيي، چې د 'مچۍ نڅا' بلل کيږي. د دغه حشراتو د دې حرکتونو معنی چې موخه یې د کارګرو مچیو ترمنځ د معلوماتو لیږدول دي په ساینسي توګه د عکاسۍ او نورو میتودونو په کارولو سره کشف شوي ده. قرآن په پورتني آیت کې یادونه کوي چې څنګه د شاتو مچۍ په یوه خاص مهارت سره د خپل رب پراخې لارې لټوي.

کارګره مچۍ یا سرتېره مچۍ یوه ښځینه مچۍ ده. د قرآن کریم په شپاړلسمه سپاره د النحل سورت په ۶۸ او ۶۹ آیتونو کې د مچۍ لپاره کارول شوی جنسیت د ښځینه جنسیت (فَاسلُكِي او كُلِي) دا په ګوته کوي چې هغه مچۍ چې د خوړو د راټولولو لپاره له خپل کور بهر وځي ښځینه مچۍ ده.

په بل عبارت، سرتیرې یا کارګر مچۍ یوه ښځینه مچۍ ده. په حقیقت کې، د شکسپیر په "هینري څلورم" ډرامه کې ځینې کرکټرونه د مچیو په اړه خبرې کوي او دا یادونه کوي چې مچۍ سرتیري دي او دوی یو پاچا لري. او دا هغه څه دي چې د شکسپیر په وخت کې یې خلکو فکر کاوه. دوی فکر کاوه چې کارګر مچۍ نارینه مچۍ دي او له بهر څخه د راستنېدو وروسته کور ته ځي او خپل پاچا مچۍ ته ځواب ورکوونکي دي. مګر دا رښتیا نه ده، کارګر مچۍ ښځینه دي او دوی پاچا مچۍ ته نه بلکه ملکې مچۍ ته راپور ورکوي. مګر دغه عصري څېړنو تقریباً ۳۰۰ کلونه وخت ونیو ترڅو یاده موضوع کشف شی.

## د غنې (عنکبوت) جال/ کور نازک او ماتېدوونکی دی

قرآن کریم په عنکبوت سورت کې فرمايي:

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًاۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِۖ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ (العنكبوت: ۴۱)

ژباړه: د هغو خلکو مثال چې الله نه پرته يې نور دوستان نیولي، داسې دی لکه غنې چې ځان ته یو کور نیولی او تر ټولو زیات کمزوری کور د غنې کور دی، کاشکې دوی پوهېدلی.

د غنې د جال د فزیکی توضیحاتو د ورکولو تر څنګ چې ډېر نازک او ضعیف دی، قرآن کریم د غنې په کور کې د اړیکو په کمزورتیا هم ټینګار کوي، چیرې چې ښځینه غنې ډیری وخت خپل نر ملګری وژني.

## د میږیانو د ژوند ډول او ارتباطات

لاندې قرآني آیت ته پام وکړئ:

وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (النمل:۱۷-۱۸)

ژباړه: او سلیمان ته د هغه د پیریانو، انسانانو او مرغانو لښکرې راغونډې کړې شوې وې او هغوی به په کتارو کې یو بل ته را ایساریدل. (یو ځل چیرته روان و) تر څو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مېږيانو ناو ته ورسېدل، يو مېږي وويل: اې مېږيانو خپلو غارونو ته ننوځئ، هسې نه چې سليمان او د هغه لښکرې مو چيت کړي او دوی به خبر هم نه وي.

په تيرو وختونو کې به شايد ځينو خلکو په قرآن ملنډې وهلې او دا به يې د افسانو د کيسو يو کتاب بللو چې مېږيان له يو بل سره خبرې کوي او په زړه پورې پيغامونه رسوي. په دې وروستيو وختونو کې، څېړنو موږ ته د مېږيانو د ژوندانه د طرز په اړه يو شمېر داسې حقايق ښودلي چې مخکې انسانانو نه پيژندل. څېړنو ښودلې چې هغه حيوانات يا حشرات چې د ژوند طرز يې د انسانانو د ژوند له طرز سره نږدې ورته والی لري مېږيان دي. دا د مېږيانو په اړه له لاندې موندنو څخه ليدل کېدی شي:

(الف) مېږيان خپل مړي د انسانانو په شان ښخوي.
(ب) دوی د کار د وېش يو پرمختللی سيستم لري، چېرته چې دوی مديران، څارونکي، سرکاريګران، کارګران او نور لري.
(ج) وخت نا وخت له يو بل سره ملاقات کوي او يو له بل سره خبرې کوي.
(د) دوی په خپل منځ کې د اړيکو يو پرمختللی ميتود لري.
(ه) دوی منظم بازارونه لري چېرې چې دوی توکي تبادله کوي.
(و) دوی په ژمي کې د اوږدې مودې لپاره حبوبات ذخيره کوي او که چيرې دانې په شنه کېدلو پيل وکړي نو دوی يې ريښې پرې کوي، لکه دوی چې پوهيږي که چيرې دوی يې ودې ته پرېږدي نو دانې به خرابې شي. او که چېرې د دوی له خوا ذخيره شوې غلې دانې د باران له امله لندې شي نو دوی يې د لمر وړانګو ته د وچولو په موخه بيرون ته راوړي او کله چې وچ شي نو بيرته يې د ننه کوي، لکه دوی چې پوهيږي چې رطوبت به د دانو د ريښو د سيستمونو د پراختيا لامل شي او بيا به د ريښو د خرابيدو لامل شي.

## (۹)
## دارو (دوا)

### شات درماني خاصيت لري

د شاتو مچې د مختلفو ګلونو او ميوو د جوس په جذبولو سره په خپل بدن کې شات جوړوي، چې د موم په حجرو کې يې ذخيره کوي. يوازې څو پيړۍ مخکې انسان په دې پوه شو چې شات د مچۍ له ګېډې څخه لاس ته راځي. دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله د مخه په قرآن کريم کې په لاندې آيت کې ذکر شوی:

يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ
(النحل: ۶۹)
ژباړه: د دوی له ګېډو د بېلا بېلو رنګونو يو شربت راوځي چې په هغه کې خلکو لپاره شفا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ اوس پوهېږو چې شات يو نرم انټي سيپټيک او درماني خاصيت لري. روسانو په دوهمه نړيواله جګړه کې د خپلو زخمونو د پټۍ کولو لپاره شات کارول. ځکه زخم په دې سره رطوبت ساتي او ډېر لږ داغ له ځانه پرېږدي. د شاتو د کثافت له امله، په زخم کې هيڅ فنګس يا باکتريا وده نه کوي. هغه ځوک چې د يو ځانګړي نبات په الرژۍ (حساسيت) اخته وي له هغه نبات څخه دې شات ورکړل شي ترڅو هغه کس د الرژۍ په وړاندې مقاومت پيدا کړي. شات د فرکټوز او ويټامين K يوه بډايه منبع ده. په دې توګه په قرآن کريم کې د شاتو، د هغې د اصليت او ځانګړنو په اړه معلومات د نازلېدو له وخته ډېر مخکې وو.

## (۱۰)
## فيزيولوژي

### د وينې دوران (ګردش) او د شيدو توليد

قرآن کريم ۶۰۰ کاله مخکې له دې چې مسلمان ساينسپوه ابن نفيس د وينې دوران تشريح کړي او ۱۰۰۰کاله مخکې له دې چې ويليم هاروي دغه پوهه غربي نړۍ ته راوړي، نازل شوی دی. څه د پاسه دیارلس پېړۍ مخکې دا معلومه شوه چې په کولمو کې څه پيښيږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د بدن غړي د هاضمې د جذب په پروسه کې تغذيه کيږي، په قرآن کريم کې يو آيت د شيدو د اجزاو سرچينه له دې مفکورو سره په مطابقت کې بيان کړې ده.
ددې لپاره چې د پورتنيو مفاهيمو په اړه په قرآني آيت پوی شوو، دا اړينه ده تر څو معلوم کړو چې په کولمو کې کيمياوي تعاملات ترسره کيږي او له هغه ځايه له خوړو څخه استخراج شوي مواد د پيچلي سيستم له لارې د وينې جريان ته ځي؛ ځينې وختونه نظر د دوی کمياوي طبعيت دا پروسه د ځيګر له لارې ترسره کيږي. دغه مواد چې په منځ کې يې د شيدو توليدوونکې تي لرونکي غدې دي بيا د وينې په مرسته د بدن ټولو ارګانونو ته ليږدول کيږي.
په ساده اصطلاحاتو کې، د کولمو له محتوياتو څخه ځينې مادې په خپله د کولمو د ديوالونو رګونو ته ننوځي، او دا مواد د وينې جريان په واسطه مختلفو غړو ته ليږدول کيږي .که موږ غواړو د قرآن په لاندې آيت پوی شو نو دا مفکوره بايد په بشپړه توګه ومنل شي:

وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ (النحل:۶۶)

ژباړه: او په دې څارويو کې هم ستاسو لپاره خامخا يو درس شته، د هغو په ګېډو کې له څه شيانو (د کلمو او وينې د محتوياتو له منځه) تاسو ته سوچه پۍ درڅښو چې د څښونکو لپاره آسانه په خوند تېرېدونکې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ (المؤمنون: ٢١)
ژباړه: او رښتيا چې ستاسې لپاره په څارويو کې هم يو درس شته، چې د هغو په ګېډو کې څه دي، له هغو نه موږ تاسې ته يو (پاك) شی (شېدې) درڅښنو او تاسو ته په هغو کې ډېرې ګټې دي او خوراك (غوښې) هم ترې کوئ.

په غواګانو کې د شيدو توليد په اړه قرآني توضيحات خورا په زړه پورې دي او هغه څه ته ورته دي چې عصري فزيولوژي کشف کړي دي.

# (١١)
# جنين پېژندنه

## انسان له علق (پرنډ شوې وينې) څخه پيدا شوی

څو کاله وړاندې، د عربو يوې ډلې له قرآن کريم څخه د جنين په اړه ټول معلومات راټول کړل او د قرآن کريم دا لارښوونه يې تعقيب کړه:

فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (الانبيا: ٧)
ژباړه: که تاسو نه پوهېږئ نو له هغه چا څخه پوښتنه وکړئ چې پرې پوهېږي.

له قرانکريم څخه ټول معلومات چې تر دې وخته راټول شوي وو په انګليسي ژبه وژباړل شول او پروفيسور (ډاکټر) کيت مور ته چې د کاناډا د ټورنټو پوهنتون د جنين دېپارتمنت رئيس او د اناتومي څانګې پروفيسور و وړاندې شول. دا مهال هغه د جنين پېژندنې په برخه کې يو له برلاسو کسانو څخه دی. له هغه څخه وغوښتل شول چې د جنين د برخې په اړه په قرآن کريم کې د موجودو معلوماتو په اړه خپل نظر ورکړي. ډاکټر مور د قرانکريم د آياتونو د ترجمې په دقيقه توګه له څېړلو وروسته وويل چې په قرآن کريم کې د جنين پېژندنې په اړه ډېری معلومات د جنينولوژي په برخه کې د عصري کشفونو سره په بشپړ ډول مطابقت لري او له دوی سره په هېڅ ډول په ټکر کې نه دي. هغه زياته کړه چې، مګر بيا هم، يو څو داسې آيتونه شتون لري چې د ساينسي دقت په اړه يې دی نظر نه شي ورکولای. هغه نه شي ويلای چې دا څرګندونې سمې دي که ناسمې، ځکه چې هغه په خپله له هغو معلوماتو څخه چې په دې آياتونو کې دي خبر نه و. د جنين پېژندنې په عصري ليکنو او مطالعاتو کې هم د دې معلوماتو يادونه نه ده شوې. يو داسې آيت دا دی:

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ (العلق: ١-٢)
ژباړه: ولوله! د خپل هغه رب په نامه چې پيدا يې کړ، د وينې له ټوټې يې انسان پيدا کړ.

د 'علق' کلمه سربېره پردې چې د وينې د جمع شوې ټوټې معنی لري د ختو په څېر ماده او د هغه څه معنی هم لري چې سرېښېږي. ډاکټر کيت مور نه پوهيده چې آيا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړيو مرحلو کې جنين د ويني د پرنډ شوې ټوټې په څير ښکاري. د دې د کتلو لپاره هغه په خپل لابراتوار کې د خورا قوي مايکروسکوپ لاندې د جنين لومړنۍ مرحله مطالعه کړه او هغه څه يې پرتله کړل چې هغه يې د زالو (وينه څښونکي) له ډياګرام سره پرتله کړل او هغه د دواړو ترمينځ د پام وړ ورته والي ته حيران شو!

په همدې ډول، هغه د جنينولوژي په اړه له قرآن کريم څخه نور داسې معلومات هم ترلاسه کړل چې تر اوسه ورته معلوم نه وو. ډاکټر کيت مور شاوخوا اتيا هغه پوښتنو ته ځوابونه وويل چې د جنينولوژيکي معلوماتو په اړه په قرآن او حديث کې ذکر شوي دي. پروفيسور مور دې ته په اشارې سره چې په قرآن او حديث کې موجود معلومات د جنينولوژي په برخه کې له وروستيو کشفونو سره په بشپړ ډول موافق دي، وويل: «که له ما څخه دېرش کاله مخکې دا پوښتنې مطرح شوې وای، زه به په دې نه وای توانېدلی چې حتی نيمايي يې د ساينسي معلوماتو د نشتوالي له امله ځواب کړم."

ډاکټر کيت مور له دې مخکې د "پرمختللي انسان" کتاب ليکلی و. له قرآن کريم څخه د نويو علمي حقايقو له ترلاسه کولو وروسته يې په ۱۹۸۲ کال کې د همدې کتاب دريمه ګڼه "د پرمختللی انسان" په نوم وليکه. نوموړی کتاب د يو واحد ليکوال له خوا د ليکل شوي غوره طبي کتاب جايزه وګټله. دا کتاب د نړۍ څو لويو ژبو ته ژباړل شوی او د طبي مطالعاتو په لومړي کال کې د جنينولوژي درسي کتاب په توګه کارول کيږي.

په ۱۹۸۱ کال کې، د سعودي عربستان په دمام ښار کې د اووم طبي کنفرانس په ترڅ کې ډاکټر مور وويل: «دا زما لپاره ډېره د خوښۍ خبره ده چې د انسان د پرمختګ په اړه په قرآن کريم کې د بياناتو په روښانه کولو کې مرسته کوم. دا ما ته څرګنده ده چې دا خبرې به د خدای يا الله له لوري محمد (صلی الله عليه وسلم) ته راغلي وي، ځکه دا ټول علم تر څو پيړيو وروسته نه و کشف شوی. او دا ما ته ثابتوي چې محمد به د خدای يا الله رسول وي.

ډاکټر جولي سمپسن، د امريکا د هيوسټن د بايلر د طبي علومو کالج کې د زيږون او نسايي علومو د څانګې رئيس، داسې بيانوي: "... دا حديثونه، د محمد (صلی الله عليه وسلم) ويناوې نه شي کېدلای د هغه علمي پوهې پر بنسټ چې د ليکوال په وخت (۷ پيړۍ) کې يې شتون درلود ترلاسه شي. دا په دې مانا ده چې نه يوازې دا چې د جنيتيک او مذهب (اسلام) ترمينځ هيڅ ټکر شتون نه لري بلکه په حقيقت کې دين (اسلام) کولی شي په ځينو دوديزو ساينسي طريقو کې د وحې په اضافه کولو سره ساينس ته لارښوونه وکړي... په قرآن کريم کې داسې وضاحتونه شتون لري چې پيړۍ وروسته هم د اعتبار وړ دي او د هغه علم ملاتړ کوي چې له خدای څخه اخيستل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انسان له یو ځاځکي څخه پیدا شوی چې د ملا تیر او پښتۍ له منځه راوځي

فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ (الطارق:۵-۷)

ژباړه: نو انسان دې وګوري چې له څه پیدا شوی؟ له توپ وهونکو اوبو پیدا دی چې د شا او سینې (پښتۍ) د هډوکو له منځه راوځي.

په جنیني پړاوونو کې، د نارینه او ښځینه تناسلي ارګانونه (خصیان او تخمدان)، له پښتورګو سره نږدې د نخاعي ستون او یوولسمو او دولسمو پوښتیو ترمنځ خپله پراختیا پیلوي. وروسته دوی ښکته کیږي؛ د ښځینه جنسي غده (تخمدان) په لګن کې ودریږي په داسې حال کې چې د نارینه جنسي غدې (خصیان) د زیږون دمخه خپل نزول ته دوام ورکوي ترڅو د انګیونال کانال له لارې سکروټم (د خصیې کیسې) ته ورسیږي. حتی په لویانو کې د تناسلي غړي له نزول وروسته، دا اعضاء خپل عصبي عرضه او د وینې رسول د خېټې له شیریان څخه چې د ملا د هډوکي (د نخاعي ستون) او پښتیو ترمنځ ساحه کې ده ترلاسه کوي. حتی لمفاوي تخلیه او وریدي بېرته راستنیدنه هم همدې ساحې ته ځي.

## انسانان له نطفې څخه پیدا شوی دي
## (د مایع دقیق مقدار)

قرآن کریم لږ تر لږه یوولس ځله دا یادونه کړې چې انسان له نطفې څخه پیدا شوی دی، یعني د مایع یوه دقیقه اندازه یا د مایع یو داسې ځاځکی ده چې د پیالې له خالي کولو وروسته پاتې کیږي. دا د سورت الحج په ۵م اوسورت المؤمنون ۱۳م آیاتونو په شمول د قرآن کریم په بېلابېلو آیتونو کې ذکر شوي دي.[۱۰]

ساینس په دې وروستیو وختونو کې دا ثابته کړې چې د تخمې د القاح لپاره په اوسط ډول له دریو ملیونو سپرمونو څخه یوازې یوه ته اړتیا ده. دا په دې مانا ده چې د یوې تخمې د القاح لپاره د خارج شویو سپرمونو یوازې ۱/۳ ملیون برخه یا ۰،۰۰۰۰۳ فیصده مقدار اړین دی.

## انسانان له سُلاله څخه پیدا شوي دي
## (د مایع جوهر یا سوچه برخه)

ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ (السجده: ۸)

ژباړه: بیا یې دهغه ځوځات د بې کاره اوبو له نچوړ څخه راچلولی دی.

---

[۱۰] ورته بیان په قران کریم کې په لاندې ځایونو کې راغلی؛ سورت النحل-ایت ۵، الکهف-ایت ۳۷، فاطر-ایت ۱۱، یس-ایت ۷۷، غافر-ایت ۶۷، النجم-ایت ۴۶، القیامه-ایت ۳۷، النسان-ایت ۲ او عبس-ایت ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عربی کلمه 'سُلاله' د جوهر یا د ټولو غوره برخې په معنی ده. موږ اوس پوهیږو چې د انسان له خوا تولید شویو څو ملیونو سپرمونو څخه یوازې یو واحد سپرم چې تخمدان ته ننوځي د القاح لپاره اړین دی. له څو ملیونونو څخه یوه نطفه، په قرآن کریم کې د 'سُلاله' په نوم یاده شوې ده. سلاله هم له مایع څخه د یو نرم او ملایم استخراج معنی لري. دغه مایع دواړه نارینه او ښځینه جنیني (نطفه ای) مایعاتو ته اشاره کوي چې بالغ جنسی سلولونه (ګامیټونه) لري. تخمه او سپرم دواړه په نرمۍ سره د القاح په پروسه کې د دوی له چاپیریالونو څخه ایستل کیږي.

## انسان له "نُطفةٍ امشاجٍ" څخه جوړ شوی (ګډ شوي مایعات)

لاندې قرآني آیت ته پام وکړئ:
إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا (الانسان: ۲)
ژباړه: انسان خو یقیناً موږ له یوګډ شوي څاڅکي پیدا کړ چې هغه وازمایو نو اورېدونکی مو وګرځولو.

د "نُطفةٍ أمشاجٍ" عربي کلمه د ګډو شویو مایعاتو معنی لري. د قرآن کریم د ځینو مفسرینو په وینا، ګډ شوي مایعات د نارینه یا ښځینه عواملو یا مایعاتو ته اشاره کوي. د نارینه او ښځینه ګامېټ (جنسي سلولونو) له ګډولو وروسته، زایګوټ لا هم نطفه پاتې کیږي. ګډ شوي مایع کولی شي سپرماتیک (سپرمي) مایع ته هم اشاره وکړي چې له مختلفو غدواتو څخه رامینځته کیږي. له همدې امله "نُطفةٍ امشاج"، د نارینه او ښځینه ګامېټونو (نطفه اي مایعاتو یا حجرو) او د شاوخوا برخې د یو دقیق مقدار ګډې شوې مایع ته اشاره کوي.

## د جنسیت ټاکل

د جنین جنسیت د تخمې له مخې نه بلکې د سپرم د طبیعت له مخې ټاکل کیږي. د ماشوم جنسیت، چې ښځینه دی یا نارینه، په دې پورې اړه لري چې آیا د کروموزوم درویشتمه (۲۳) جوړه په ترتیب سره XX یا XY ده. په ابتدایي توګه د جنسیت تعیین د القاح په وخت کې واقع کیږي او په سپرم کې د جنسي کروموزوم په هغه ډول پورې اړه لري چې یوه تخمه القاح کوي. که چېرې هغه سپرم چې تخمه القاح کوي د "X" کروموزوم لرونکی وي، جنین یوه ښځینه ده او که دا د "Y" کروموزوم لرونکی سپرم وي نو جنین نارینه دی.

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ (النجم: ۴۵-۴۶)
ژباړه: او هماغه دوه جوړې پیدا کړې دي نارینه او ښځینه، له یو څاڅکي (مني) چې وڅڅول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

'نُطفه' عربي کلمه ده چې د مايعاتو د يو دقيق مقدار معنی لري او 'تُمنیٰ' معنی انزال يا کښت شوی. له همدې امله، نُطفه په ځانګړې توګه سپرم ته اشاره کوي ځکه چې دا انزال کيږي او قرآن په دې اړه داسې فرمايي:

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ (القيامه: ٣٧-٣٩)
ژباړه: آيا هغه د مني يو څاڅکی نه دی چې څڅول کيږي، بيا د وينو يوه ټوټه شو نو الله جوړ او سم برابر کړ، بيايي له هغه نه جوړه پيدا کړه، نارينه او ښځينه.

دلته يو ځل بيا يادونه وشوه چې د سپرم يو کوچنی مقدار (څاڅکی) چې د "نُطْفَةٍ مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ" په کلمه ښودل کيږي او له سړي څخه راځي د جنين د جنس مسؤل دی.
د هند په نيمه وچه کې خواښې ګانې په لويه کچه د نارينه لمسيانو درلودل غوره ګڼي او که ماشوم يې د خوښې وړ جنس نه وي نو ډېری وخت خپلې انګورانې ملامتوي. کاش دوی په دې پوهېدلای چې د جنسيت ټاکونکی عامل (فکتور) د نارينه سپرم دی نه د ښځينه تخمه! که دوی بل څوک ملامتوي، دوی بايد خپل زامن ملامت کړي، نه خپلې انګورانې، ځکه چې قرآن او ساينس دواړه دا مني چې د نارينه مايع د ماشوم د جنسيت د ټاکلو مسؤوليت لري!

## جنين د دريو تيارو پردو په واسطه ساتل کيږي

يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ۚ (الزمر:٦)
ژباړه: هغه تاسې د خپلو ميندو په ګېډو کې له يو پيدايښت نه وروسته بل پيدايښت سره په دريو تيارو کې پيدا کوي.

د پروفيسور کيت مور په وينا، په قرآن کريم کې د تيارو دا درې پردې لاندې ټکو ته اشاره کوي:
(الف) د مور د معدې مخکنی ديوال
(ب) د رحم ديوال
(ج) امينيو کوريونيک غشا

## جنيني مرحلې

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَٰمًا فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ (المؤمنون: ١٢-١٤)

ژباړه: او بې شکه موږ انسان د خټې له جوهر (سوچه برخې) نه پيدا کړ. بيا مو هغه د يو څاڅکي په بڼه محکم خوندي ځای کې کېښود. بيا مو هغه څاڅکی د وينې يوه ټوټه وګرځوله، بيا مو هغه ټوټه د غوښې يوه بوټۍ وګرځوله، چې له بوټۍ مو هډوکي پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه نو هډوکو ته مو غوښه ور واغوستله، بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ نو الله ډېر برکتناك دی، تر ټولو غوره پیدا کونکی!

په دې آیت کې الله تعالی فرمايي چې انسان د مايعاتو له يوې کوچنۍ ذرې څخه چې په ټينګه سره (په ښه توګه) په يو آرام ځای کې ځای پر ځای شوې ده پيدا شوی دی، او په قرآن کې ورته د عربي کلمه "قرارٍ مَّکين" کارول شوې ده.
رِحم د نخاعي ستون په واسطه چې د شا د عضلاتو له خوا په کلکه ملاتړ کيږي د پوستکي څخه ښه ساتل کيږي. جنين نور هم د امينوټيک کڅوړې لخوا چې د امينوټيک مايع لري خوندي کيږي. په دې توګه جنين د استوګنې يو ښه خوندي ځای لري. دا لږ مقدار مايع علقه (هغه څه چې چسپيږي) جوړيږي. دا د زالو (وينه څښونکي)[11] ته ورته مادي معنی هم لري. دواړه توضيحات په ساينسي ډول د منلو وړ دي ځکه چې په لومړيو مرحلو کې جنين په ديوال پورې نښتې وي چې د وينې څښونکي (زالو) په بڼه ښکاري.
دا هم د زالو (د وينې څښونکي) په څېر چلن کوي چې د وينې رسول د پلاسنټا له لارې د مور څخه ترلاسه کوي.
د 'علقه' کلمې دريمه معنی د وينې ټوټه ده. د علقه په دې مرحله کې، چې د حمل په دريمه او څلورمه اونۍ کې دوام کوي، وينه په تړل شويو رګونو کې راټوليږي. له همدې امله جنين د زالو (وينه څښونکي) د ظاهري بڼې ترلاسه کولو سربيره د وينې ټوټې بڼه هم ترلاسه کوي. په ۱۶۷۷ کې، هام او ليووين هويک لومړني ساينسپوهان وو چې د مايکروسکوپ په کارولو سره يې د انسان د سپرم حجرې (سپرماتوزوا) مشاهده کړې. دوی فکر کاوه چې د سپرم حجره کې يو کوچنی (مينياتوری) انسان شتون لري چې په رحم کې وده کوي ترڅو نوی زيږيدونکی تشکيل شي.
دا د پرفوريشن تيوري په نوم پيژندل کېده. کله چې ساينسپوهانو وموندله چې تُخمه د سپرم په پرتله لويه ده، او د ډي ګراف او نورو فکر دا و چې جنين په کوچني شکل په تخمه کې شتون لري. وروسته، په ۱۸مه پيړۍ کې ماپيرتيوس د دوه اړخيزه-ارثي تيوري وړاندې کړه. علقه په مُضغة «هغه څه چې ژوول کيږي» (د غاښونو نښې ولري) او همدارنګه هغه څه چې چسپناک او کوچني وي او د ژاولو په څېر په خوله کې اچول کيدای شي بدله شوې ده. دا دواړه توضيحات په ساينسي توګه سم دي.
پروفيسور کيت مور د مهرکولو پلستر يوه ټوټه راواخيسته او د جنين د لومړيو مرحلو په اندازه او شکل يې جوړه کړه او د غاښونو تر مينځ يې وژووله ترڅو دا په "مُضغة" بدل کړي. هغه دا د جنين د لومړي پړاو له عکسونو سره پرتله کړه. د غاښونو دا نښې له 'سوميت' سره چې د نخاعي کالم لومړنی جوړښت دی ورته دي.
دا مُضغة په هډوکو(عظام) بدليږي. هډوکي په غوښې يا عضلاتو (لحم) سره پوښل شوي دي. بيا الله تعالی هغه بل مخلوق جوړوي. پروفيسور مارشال جانسن په متحده ايالاتو کې يو له مخکښو ساينسپوهانو څخه دی، هغه د متحده ايالاتو په فلاډلفيا کې د توماس جيفرسن پوهنتون کې د اناتومي څانګې مشر او د ډينيل انستيټيوټ رييس دی. له هغه

[11] يو کوچنی پرازيټي حيوان دی چې په اوبو کې موندل کيږي او د انسان يا بل حيوان په بدن باندې ځان سريښوي او وينه ترې څښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه وغوښتل شول چې په قرآن کریم کې د جنینولوژي مربوط آیتونو په اړه تبصره وکړي. هغه وویل د قرآن کریم هغه آیتونه چې د جنین پړاوونه بیانوي یو تصادف نه شي کېدای.
هغه وویل دا احتمال شته چې محمد (صل الله علیه وسلم) یو پیاوړی مایکروسکوپ درلود. کله چې هغه ته یاده شوه چې قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې نازل شوی او مایکروسکوپونه د پیغمبر اکرم (صل الله علیه وسلم) له زماني څخه ګڼې پېړۍ وروسته اختراع شوي دي، پروفیسور جانسن وخندل او ویې منله چې لومړی اختراع شوی مایکروسکوپ له لس چنده زیات نه شي لویېدلی او نه شي کولی یو روښانه انځور ښکاره کړي.
د ډاکټر کیت مور په وینا، د جنین د پراختیا د پړاوونو هغه عصري طبقه بندي چې په ټوله نړۍ کې منل شوې په آسانۍ سره د پوهېدو وړ نه ده، ځکه چې دا طبقه بندي د جنین د پراختیا پړاوونه د شمیرې په اساس پېژني، د بېلګې په توګه اوله مرحله، دویمه مرحله، او داسې نور. په قرآن کې نازل شوي تقسیمات د ځانګړو او په آسانۍ سره د پېژندلو وړ شکلونو پر بنسټ چې جنین ترې تیریږي ولاړ دی. دا د زیږون د مخه د پراختیا د مختلفو مرحلو پراساس دي او په زړه پورې عملي او د پوهېدلو وړ ساینسي توضیحات چمتو کوي. د انسان ودې ته ورته د جنین مرحلې په لاندې آیتونو کې بیان شوي دي:

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ (القیامه: ۳۷-۳۹)
ژباړه: آیا هغه د مني یو څاڅکی نه و چې څڅول کیږي. بیا د وینو یوه ټوټه شو نو الله جوړ او سم برابر کړ. بیایې له هغه نه جوړه پیدا کړه، نارینه او ښځینه.

ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ (الانفطار: ۷-۸)
ژباړه: هغه چې ته یې پیدا کړې، بیایې سم برابر کړې. په هر شکل یې چې غوښتل ته یې سره ونښلولې.

## جنین یو څه جوړ شوی او یو څه نه دی جوړ شوی

د مُضغة په مرحله کې که چیرې په جنین کې چاک (درز) جوړ شي او داخلي غړي جلا شي، نو لیدل کیږي چې ډیری یې جوړ شوی دي په داسې حال کې چې نور یې په بشپړه توګه نه دي جوړ شوي.
د پروفیسور جانسن په وینا، که موږ جنین د یو بشپړ تخلیق (جوړ شوي) په توګه تشریح کړو، نو موږ یوازې هغه برخه تشریح کوو چې مخکې جوړ شوی. که موږ دا د یو نامکمل تخلیق په توګه تشریح کړو، نو موږ یوازې هغه برخه بیانوو چې لا تراوسه نه ده جوړه شوې. نو آیا دا یو بشپړ تخلیق دی یا نیمګړی یو؟ د جنین د پیدایښت د دې مرحلې په اړه د قرآن کریم له تشریح څخه بل ښه وضاحت نه شته، چې "یو څه جوړ شوي (شکل لري) او یو څه نه دي جوړ شوي (بې شکله) دی"، لکه په لاندې آیت کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ (الحج:۵)
ژباړه: موږ تاسو له خاورې پیدا کړي یاست، بیا له نطفې، بیا د وینې له ټوټې، بیا د غوښې له بوټۍ نه چې پوره شکل لرونکې هم وي او نیمګړي شکل والا هم.

په ساینسي ډول موږ پوهیږو چې د پرمختګ په دې لومړیو مرحلو کې ځینې حجرې شتون لري چې بېلې شوې دي او ځینې حجرې شتون لري چې بېلې شوې نه دي - ځینې غړي جوړ شوي او ځینې نور یې لاتراوسه نه دي جوړ شوي.

## د لیدلو او اورېدلو حس

د انسان په جنین کې د ودې لپاره لومړنی حس اورېدل دي. جنین کولی شي له څلورویشتمې اونۍ وروسته غږونه واوري. وروسته له دې د لید حس وده کوي او په ته ویشتمه اونۍ کې د سترګې شبکیه (ریتینا) له رڼا سره حساس کیږي. په جنین کې د حواسو د ودې په اړه لاندې قرآني آیتونو ته پام وکړئ:

وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ (السجده: ۹)
ژباړه: او تاسې ته یې د اورېدو، لیدو (قوتونه) او (فکر کولو) زړونه درکړل (خو) تاسو ډېر لږ شکر باسئ.

إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا (الانسان: ۲)
ژباړه: انسان خو یقیناً موږ له یوګډ شوي څاڅکي پیدا کړ چې هغه وازمایو نو اورېدونکی او لیدونکی مو وګرځولو.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ (المؤمنون: ۷۸)
ژباړه: او دی هماغه ذات دی چې تاسو ته یې غوږونه، سترګې او زړونه پیدا کړي، خو تاسو ډېر لږ شکر وباسئ!

په دې ټولو آیتونو کې د اورېدلو حس د لیدلو له حس څخه مخکې ذکر شوی دی. په دې توګه، د قرآنکریم توضیحات د عصري جنینولوژي له اختراعاتو سره سمون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۲)
# عمومي ساينس

## د ګوتو نښې

أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ (القيامه: ۳-۴)
ژباړه: آیا انسان دا ګومان کوي چې موږ به یې هډوکي راټول نه کړو؟ ولې نه، موږ خو آن دهغه د بندونو (او ګوتو سرونو) پر سم برابرولو قادر یو.

کافران په ځمکه کې د مړو د هډوکو له ټوټې کیدو وروسته د قیامت په اړه بحث کوي او دا چې د قیامت په ورځ به هر کس څنګه پیژندل کیږي. الله سبحانه وتعالی ځواب ورکوي چې هغه نه یوازې زموږ هډوکي راټولولی شي بلکې کولی شي زموږ د ګوتو څوکې (د ګوتو سرونه) په بشپړ ډول ورغوي.
ولې قرآن د فرد د هویت په ټاکلو کې په ځانګړې توګه د ګوتو د سرونو په اړه خبرې کوي؟ په ۱۸۸۰ کال کې، د ښاغلي فرانسیس ګولټ له خوا له څېړنې وروسته، د ګوتو نښان د پیژندنې ساینسي میتود شو. په نړۍ کې د هیڅ دوه کسانو د ګوتو نښان یو شان بڼه نه لري. همدا لامل دی چې په ټوله نړۍ کې پولیس د مجرم پیژندلو لپاره د ګوتو نښان کاروي. ۱۴۰۰ کاله وړاندې د هر انسان د ګوتو د نښان ځانګړتیا چا پیژندلې وه؟ بېشکه دا به له خالق څخه پرته بل څوک نه وي.

## درد حس کوونکې آخِذې په پوستکي کې شتون لري

داسې فکر کېده چې د احساس، او درد حس یوازې په دماغ پورې اړه لري. وروستیو موندنو ثابته کړې چې په پوستکي کې د درد داسې اخیستونکې (اخذې) شته چې له دې پرته انسان درد نه شي حس کولای. کله چې یو ډاکټر یو ناروغ چې د سوځیدنې له ټپونو څخه رنځ وړي معاینه کوي، هغه د یوې ستنې (پنپریک) په واسطه د سوځیدنې درجه تاییدوي. که ناروغ د درد احساس وکړي، ډاکټر خوشحاله دی، ځکه دغه حالت دا په ګوته کوي چې سوځیدنه سطحي ده او د درد اخیستونکي ثابت دي.
له بلې خوا، که ناروغ د درد احساس ونه کړي، دا په ګوته کوي چې سوځیدنه ژوره ده او د درد اخیستونکي له منځه تللي دي. قرآن په لاندې آیت کې د درد اخیستونکو شتون ته اشاره کوي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا (النساء: ۵۶)
ژباړه: بې شکه هغوی چې کافر شوي دي ژر به یې اورته ننباسو، هرکله چې پوستکي یې پاخه شي، وربدل به کړو نور پوستکي ترڅو (ډېر) عذاب وڅکي، بې شکه الله ځيرك برلاسی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تایلینډ د چینګ مای پوهنتون د اناتومي څانګې رییس پروفېسور تاګات تیجاسین د درد اخیستونکو (آخذو) په څېړنه کې ډېر وخت تیر کړی دی. په پیل کې هغه باور نه شو کولی چې قرآن کریم ۱۴۰۰کاله وړاندې دا ساینسي حقیقت بیان کړی دی. هغه وروسته په ځانګړي ډول د دې قرآني آیت ژباړه تایید کړه. پروفیسور تیجاسین د قرانکریم له ساینسي کره والي څخه دومره متاثره شو چې په ریاض کې د قرآن او سنت د ساینسي نښو په اړه د سعودي په اتم طبي کانفرانس کې یې په عام محضر کې اعلان وکړ: «له الله پرته بل خدای نه شته، او محمد (صل الله علیه وسلم) د هغه رسول دی» یعنی مسلمان شو.

# پایله

په قرآن کریم کې د ساینسي حقایقو موجودیت تصادف ته منسوبول د عقل او د ریښتینې ساینسي تګلارې خلاف کار دی. قرآن په دې آیت کې ټولو انسانانو ته د دې کائناتو په پیدایښت کې د فکر کولو بلنه ورکوي:

إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ
(آل عمران: ۱۹۰)
ژباړه: د آسمانو او ځمکی په پیدایښت او د شپې ورځې په اوښتون کې حتماً عقلمنو ته ډېرې نښې (د عبرت) دي.

د قرآن کریم علمي شواهد په ښکاره ډول د دې کتاب الهي اصل ثابتوي. هېڅ انسان نه شي کولی، ۱۴۰۰ کاله مخکې داسې یو کتاب جوړ کړي چې په دومره کچه ژور ساینسي حقایق ولري چې څو پیړۍ وروسته به د انسانانو له خوا کشف شي. خو قرآن کریم د ساینس کتاب نه دی بلکې د نښو کتاب دی. دا نښې انسان ته بلنه ورکوي چې په ځمکه کې د خپل شتون هدف درک کړي، او طبیعت سره په همغږۍ کې ژوند وکړي. قرآن په ریښتیا هم د کائناتو د خالق او پالونکي پیغام دی. په دې کې د خدای تعالی د وحدانیت هغه پیغام دی چې له آدم، موسی او عیسی څخه تر محمد (صلی الله علیه وسلم) پورې ټولو پیغمبرانو تبلیغ کړی دی.
د قرآن کریم او عصري علومو په اړه څو مفصلې لیکنې شوې دي او په دې برخه کې نورې څېړنې رواني دي. اِن شاءالله، دا څېړنې به له انسان سره مرسته وکړي چې د خدای کلام ته نږدې شي. په دې کتاب کې یوازې په قرآن کریم کې یو څو موجود ساینسي حقایق راټول شوي دي. او زه دا ادعا نشم کولی چې موضوع ته به مې بشپړه کتنه کړې وي.
پروفیسور تیجاسین په قران کریم کې د ذکر شوې یوې ساینسي نښې په زور اسلام قبول کړ. ځینې خلک ممکن لس نښو ته اړتیا ولري او ځینې ممکن د قرآن کریم د الهی اصل په اړه د قناعت حاصلولو لپاره سل نښو ته اړتیا ولري. ځینې به د زرو نښو په ښودلو سره هم د حق منلو ته زړه نه ښه کوي. قرآن په دې آیت کې داسې تړلی ذهنیت غندلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡىٌ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ (البقره: ۱۸)
ژباړه: کاڼه، ګونګیان او ړانده دي نو بېرته (سمې لارې ته) نه راګرځي.

قرآن کریم د فرد او ټولنې لپاره د ژوند بشپړ اصول لري. الحمدلله، د قرانکریم د ژوند طریقه له هغو "نمونو" څخه خورا غوره ده چې عصري انسان د ناپوهې له امله ایجاد کړي. له خپل خالق نه بغیر بهتره لارښوونه څوک کولای شي؟
دعا کوم چې دا عاجزانه هڅه به د الله (جله جلاله) په لوی دربار کې قبوله شي. (آمین)

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**